ژباړه : محمد شفیق همدرد

۳۰ دسمبر، ۲۰۱۴

# جنرال حمیدګل: دا سمه ده چي جنګ افغانانو کاوه، خو لاربښونه یې تولـه زما وه

په دې مرکه کي ډېري په زړه پوري او نوي خبري شوي چي د لوستونکو لپاره به بې ګټي نه وي . جنرال یو ځلي بیا په پوره اخلاص دا څرګندوي چي پاکستان د تېرو څلوېښتو کلونو راهیسي په افغانستان کي لاسوهنه کړې . که څه هم مرکه اوږده ده ، خو زه به یې هغه برخي را واخلم ، چي په افغانستان پوري اړه لري . (ژباړن)

**جنرال لنده پیژندنه !**

حمید ګل په ۱۹۳۶ زیزدیزکال د نومبر په ۲۰ مه د پاکستان په سرګوده سیمه کي پیدا شوی لومړنی زده کړې یې په خپل کلي کي تر سره کړې ، د لوړ مهال لپاره د لاهور په دولتي پوهنتون کي هم پاته شوی ، په پوځ کي تر شاملېدو وروسته یې نظامي زده کړې تر سره کړې . په ۱۹۵۷ کي یې په زړ هي برخه کي دنده واخیسته ، په ۱۹۶۵ کي د هند سره د جنګ پر مهال یې د ټانک قطعي د مشر په حیث دنده لرله ، له ۱۹۷۲ تر ۱۹۷۶ پوري یې د جنرال ضیاء الحق په لاربښونه او سر پرستی د بټالین قومندان دنده تر سره کوله ، هغه مهال ،چي جنراال ضیاء د زرهپوشو د عمومي قومندان په توګه دنده تر سره کوله نو جنرال حمید ګل ته یې د بهاالپور د نظامي مدیر په توګه طرقي ورکړه . په ۱۹۸۲ کي جنرال ضیاء نوموړی د ملتان د زرهپوشو د لوی قومندان په توګه و ټاکه . په ۱۹۸۷ کي د جنرال اختر عبدالرحمن تر لري کولو وروسته د ای ایس ای د مشر په توګه وټاکل شوو . نوموړی تر ۱۹۸۹ کاله پوري دغه دنده تر سره کړه ، په ۱۹۸۹ کي د افغان مجاهیدنو په مرسته په کشمیر کي د یو شمیر وران کاره فعالیتونو مشري هم کوله . د جنرال حمید دغه دوه نیم کلنه دوره ډېره جنجالي او داسي ویل کیږي ،چي د اوسنیو نا ارامیو او تاوتریخوالي بنسټ بلل کیږي .

مرکه

**ایکسپریس : په پاکستان کي دا خبره ډېره کیږي ، چي اوسني حالات د ای ایس ای د کړه نو زیږنده دي ، په مذهبي تاو تریخوالي کي هم د ځارګرو ادارو لاس بښول کیږي ، د نشي توکو ، جهاد او کلاشینکو د دوده بنسټ هم په ای ایس ای پوري ور تړل کیږي ، ستاسي په اند په افغان جهاد کي موږه څه ترلاسه او څه مو له لاسه ورکړل ؟**

حمید ګل : د دي تر شاه پوره داستان پورت دی ، تاسو ګورئ ،چي په دې کي یو عجیب او غریب شئ دی ، چي د پاکستان د تاریخ د دوه متضادې څېرو سره تړوا لري ، یو ذوالفقار علي بهټو او بل جنرال ضیاءالحق ـ زموږ اټومي پرواګرام بناغلي بهټو پیل ؛ خو ضیاء الحق پای ته ور ساوه ـ خلک له تاریخ سره دومره نا بلده دي ،چي وایي افغان جهاد هم ګواکي جنرال ضیاء پیل کړی ! خو ریښتیا دا دي ،چي دا لړی هم د بهټو صیب له وخته را پیل شوی ـ په ۱۹۷۴ ز کي ،چي په پنجشېر کي پاڅون پیل شوو ؛ نو هغه مهال جنرال نصیر الله بابر د سرحد ایالت ( خیبر پختونخوا ) د سرحدي څواکونو مشر وو . حکمتیار ، رباني ، احمد شاه مسعود او نور ډېر کسان ؛ خو لومړی همده ته راتلل ! د دي جنګونو پیل بوټو صیب کړی او بیا طالبان ،چي پیدا شول ؛ نو دا کوم چا ویل ،چي هغوی زموږ زامن دي ...او دا خبره هم د پیپلز ګوند غړي جنرال نصیر الله بابر کړې وه .

هغه مهال ،چي شورویانو په افغانستان کي کار پیل کړ نو دلته یې هم پر ضد مبارزه پیل شوه ، ماته د بوټو صیب د وخت معلومات نه کیږي ؛ خو په دې پوهیدم چي هغه مهال لا دلته ځني کسان د افغانستان لپاره روز کېدل ، هغوی ته وسلي هم ورکول کېدې او بښه سمه مرسته ورسره کېده .

بیا هلته د ثور (غوایي ) انقلاب وشوو، د هغه په وړاندې یو مقاومت شروع شو، د هغو کسانو ،چي هلته یې کمونیستي افکار پیاده کول او اسلام پالو ترمنځ اخ اوډب شروع شوو ، ځکه افغانستان یوه بنسټ پاله تولنه ده نو ځکه یې هلته په وړاندې مزاحمت پیل شوو . د نور محمد ترکي حکومت راغی ،چي یوکمونیست پلوه حکومت وو ، جالبه خبره دا ده ،چي نور محمد ترکي تر لسمه په ملتان کي زده کړې کړې وې ، همدارز احمد شاه ابدالي ،چي داوسني افغانستان بنسټ یې ایښودونکی دی هم دلته په ملتان کي زیږېدلی او تر څورلس کلنۍ پوري همدلته پاته شوی ! زما موخه له دې خبرو دا ده ،چي زموږ دافغانستان سره نه شلېدونکې اړیکي دي ، زموږ د ژغورلو لپاره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولـئ

،چې دلته د تاریخ په اوږدو کې کوم اتلان راغلي ، پرکومو مو،چې د خپلو توغندیو نمونه هم ایښي لکه ، غوري ، غزنوي ، ابدالي ؛ دا هغه کسانو وو ،چې موږ یې څو واره ژغورلي یو. محمد بن قاسم خو له بیرونه راغلی و، خو هغه مهال ،چې مرهټوو دلته موږ د ځمکې خمیر کړو نو شاه ولي والله احمد شاه ابدالي ته لیک ولیږه ،چې موږ و ژغوري نو هغه وو ،چې زموږ د ژغورنې لپاره هغه راغی . همداراز زموږ ګڼ اولیاو کرامو او ادبي شخصیتونو تعلق له همدې سیمې دی .
بیا هم وایم ،چې زموږ له دې سیمې سره نه بېلیدونکې اړیکې دي او په هیڅ ډول سره نه شوو بېلې دای ، زه به دا به ووایم ،چې موږه په دوو قالبونو کې یو ځان یوو . تاسې د هغه مهال ټولې پېښې و څېړی ،چې موږ د شوروي په مقابل کې جنګ کاوه نو تر دونیمو کلنو پورې د امریکې درکونه نه وو ، بلکې موږ په یوازې سر دا جنګ کاوه او دا هم غلطه خبره ده ،چې موږه ټول کارونه دامریکې په اشاره کول ، موږ خپل اهداف هم لرل او امریکا خو موږه پرېښودو او له چله وله یې کار اخیست . موږ هغه مهال افغان مجاهیدینو ته د دوهم نړیوال جنګ پاته ټوپک ور کړل همدا راز تاسې به حیران شئ ،چې د لاهور له بازاره مو ورته بانسونه او سوټې هم واخیستل . دا سمه ده ،چې په دې جنګ کې بیا وروسته امریکا هم راګډه شوه ، اما همدا موږ وو ،چې هلته مو د روسانو پرمختګ ډب کړی وو او همدا موږ وو ،چې بیا وروسته مو همدا لوی طاقت مات کړ او بلاخیره هغوی ( روسان ) له افغانستانه وتوو ته مجبوره شول .
زموږ پوځ مستقیماً هلته عملیات نه کول ؛ بلکې دا زما د ای ایس ای کسان وو ،چې هلته یې خلکو ته روزنه ورکوله ، زه خپله هم دوه ځله هلته ( افغانستان ) تللی یم ، زما دواړه زامن هم په جهاد کې شامل وو.
خو بیا کله ،چې د امن خبره شوه ، نو ما ځان په خطر کې وا چاوه او یوازې هلته لاړم ، زما هلته ډېر عزت کېده ، که اوس هم افغانستان ته لاړ شم نو زما به ډېر قدر او درناوی وشي . زه د طالبانو د واکمنۍ په وروستي کال ،چې هلته د ازادۍ جشن نمانځل کېده هم د ځانګړې میلمه په توګه بللی شوی وم ، حقیقت دا دی ،چې موږ یو ډېر لوی جنګ ګټلی وو ، دا پټ جنګ پوځ نه بلکې ای ایس ای پر مخ بېوه ؛ په دې اساس ای ایس ای د نړۍ په کچه هغه لومړی درجه څارګره اداره ده ،چې نه یوازې د پټ جنګ د تر سره کولو توان لري بلکې د نور جنګونه هم کولی او هم ګټلی شي . نو په دې اساس د دښمنانو په سترګو کې ای ایس ای اغزی دی .
اوس چې دا خبره کیږي ،چې د کلاشینکوف او هیروینو فرهنګ د افغان جهاد زېږنده ده نو دا خبره بالکل غلطه ده ، د دې جهاد دومره ګټې وې ،چې موږ به یې په حسابه ولو سترې شوو ، چې مهمې به یې زه درته په ګوته کړم .
لومړی دا چې پر موږ ټول نړیوال بندیزونه ختم شول ، موږ داسې یو جنګ ګټلی ،چې په ترڅ کې یې د منځنۍ اسیا ۷ هیوادونو ازادي ترلاسه کړه ، د شوروي اتحاد له منځه تګ وو ،چې زموږ لپاره لوی خطر وو ، موږ په ډېره چوپتیا اتومې بم جوړکړ ، دوی پوهیدل ،چې موږ اتم بم جوړه وو ، خو موږه له هغوی سره چالبازي وکړه ، هغوی ( غربیان ، امریکا ) مجبوره وو ، موږه یې هم د همدې مجبورۍ ګټه پورته کړه او اټومې طاقت شوواوس ،چې مودي ( دهند لومړی وزیر ) هرځومره پر پاکستان د برید خبرې کوي مانا نه لري ؛ ځکه اوس موږ د اټومي بم له برکته محفوظ یوو ، په همدې مهال مو کوبرا هلي کاپټر ، ایف ۱۶ هارپونه مزایل .. او نور ګڼ پوځي اسلحې تر لاسه کړې ، په داسې حال کې ،چې په ۱۹۷۱ کې زموږ دفاعي نظام صفر وو .
دا هغه څه وو ،چې موږه د افغان جهاد له برکته ترلاسه کړل ، دا زموږ خپل هنر وو . دا چې خلک وایي ،چې موږ د امریکا ډول ته ګډیږو سمه نه ده ، که داسې وای ولې یې زه لوی درستیز نه کړم ؛ ځکه ما لوی جنګ ورته ګټلی وو ، دا سمه ده ،چې جنګ افغانانو کاوه ، خو لاربښونه یې ټوله زما وه ، او اوس نه امریکا او نه هم اروپا یې هیوادونه ماته ویزه راکوي ، لامل یې دا دی ،چې زه یو پاکستانی یم او هغه ټول کارونه ما د دوی لپاره نه کول ، نو خبره دا،چې دکلاشینکوف فرهنګ د رواجولو تور په افغان جهاد پورې تړل مناسبه خبره نه ده . دا خبرې په رسنیو کې هغه کسان کوي ،چې سیکولران دي ، دوی ته هم جهاد خوند نه ورکوي او امریکې ته هم ، دا پاکستان طالبان هم د امریکې په هڅو رامنځ ته شوي .

**ایکسپریس : زموږ د بهرنۍ پالیسی په کوم ځای کې ستونزه ده ؛ که موږ د روس سره اړیکې ښې کړو نو د امریکې غبرګون به څه وي ؟**

حمید ګل : زما په اند له ایران سره زموږ د اړیکو پر ښه کولو فکر پکار دی ؛ موږ مړه شوو ،چې څنګه له هند سره سوداګریزې اړیکې ښې کړو ،په داسې حال کې ،چې هند زموږ په درد نه خوري . ایران هغه ټولو توکو ته اړتیا لري ،چې پاکستان یې تولیده وي . موږ تل له هند سره په سوداګرۍ کې زیان کړی . بله مهمه خبره دا ده ، چې ځنې خلک له هند سره پر اړیکو جوړه ولو کې ډېر افراط کوي ، په داسې حال کې ،چې زموږ او هند ترمنځ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د کشمیر ستونزه پر ځای پاته ده ، موږ ته په پوخ کي روزنه هم د کشمیر د ازادئ په مقصد راکول کېده ، په همدې اساس وه ،چي جنرال کیاني ویلي وو ،چي زموږ دفاعي محور هند دی ، نو په دې خبره ترې مایک مولن خفه شوو او همدا لامل وو ،چي په اخیري دریو کلونو کي کیاني امریکې ته سفر ونه کړ . اوسني لوی درستیز راحیل شریف هم دا خبره کړې ،چي کشمیر زموږ په وینه کي ګډ دی . نو یوې خواته د هند په وړاندې داسې فکر او نور بیا ور سره د ښو اړیکو خبرې کوي ،چي دا دوې متضادې لارې دي ـ پر افغانستان موږه له تېرو څلوېښتو کلنو راهیسې پیسې او وسایل مصروفه وو ، له هغه پیله تر اوسه پوره څلوېښت کاله وشول ،چي هلته فعالیتونه کوو . زموږ ټول حکومتونه باید هغه بهرنئ پالیسي ،چي په ۱۹۷۴ ز کي جوړه شوې پر مخ یو سي ؛ کني لکه دا اوس ،چي زړه نا زړه یو نو نا کامه به هم وو .

د تاند د ملی پانه مننه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ